هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال.(۲۵)گنه د۱۳٦۹ هـ ش کال دحوت (۱۵)

امکان اشتعال جنگ داخلی در روسیه

میخائیل گورباچف رئیش جمهور روسیه به جنبشهای دموکراتیك انکشور هشدار داده است که اگرمخالفت شان را با رهبری وسیستم کمونیزم در روسیه ترك نکنند ممکن است این امر منجر به اشتعال جنگ داخلی گردد.

طبق یك خبر رادیو صدای امریکا گرباچف این هشدار راطی بیانیه درشهرمینسك داده وگفته است که به بوریس یلتسین وطرفداران افراطی اصلاح طلب وی دریك مبارزه جنجالی ورقابت درگیرند که میتواند ثبات اجتماع واصلاحات وی راامواجه به خطر سازد .

مخالفین گرباچف وطرفداران دموکراسی درشوروی میگویند که

درصفحه هشتم

دکندهار هوایي ډګر دنجیب دبیرته ستنیدو په وخت کې تربرید لاندې ونیول شو

په اتم مخ کې

ددښمن پرپوستو دغورولایت دمجاهدینو بریالي عملیات

غور- میډیا :

دکویټې په ښارکې د«میډیا» نمایندګی ته په رسیدلی خبرونو کی ویل شوی چی دغورولایت دتولك ولسوالی دزړورو مجاهدینو له خوا ددی ولسوالی په اطرافو کی ددښمن ځای پرځای شوی امنیتی پوستی تربرید لاندی ونیول شوی چی دمزدوررژیم ۹ کسه منسوبین یی ووژل او۱۵ کسه نور یی ټپیان کړی .

ددغه عملیاتو په لړ کی چی ددلوی له ۲۹ می څخه دحوت تردریمی پوری یی جریان درلود ، دمزدوررژیم هوایی پوځ دتولك ولسوالی کلی ترخپل برید لاندی نیولی ؤ چی ددی بمباری له امله یو زیات شمیر کوررونه تخریب شوی .

همداراز دهرات ولایت دشینډنډ ولسوالی دیوی جهادی منبع له خوا په کویټه کی دمیډیا نمایندګی ته خبر ورکړی شوی چی دمزدوررژیم دملیشه ؤددوه دښمنو ډلو ترمنځ په یوه نښته کی ددواړو ډلو څخه ٦۰ کسه مړه شوی دی اوڅه دپاسه ۱۰۰ کسه نورټپیان شوی .

نوموړی منبع ویلی چی ددی دښمنوډلو ترمنځ وسله والی نښتی نوری هم پراخه شوی اوزیات تلفات یی اړولی .

دکابل ښار په پوځي مرکزونو دمجاهدینو بریدونه

زموږخبریال د قوما ندانانو دسرتاسری شورا له مرکز څخه خبر اخیستی دی چی دشکردری کفرځپونکو مجاهدینو دخیرخانی اوقرغی په سیمه کی دکابل دګوډاګی رژیم پوځی مرکزونه د۱۲۰او۱۲۲ ملی متری توپونو په وسیله تراورلاندی ونیول .

ددی برید په نتیجه کی ددښمن یوه عراده زغروال ټانك او دوی عرادی لاری ویجاړی شوی دی .

خبروایی چی درژیم الوتکو دغچ اخیستلو په خاطر دسیمی داوسیدونکو ځایونه بمباری کړل چی په هغی کی دری تنه بی ګناه اوسیدونکی شهیدان اوپنځه تنه ټپیان شول .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني له (صدای مجاهد) سره په مرکه کې :

PROPERTY OF ACKU

دافغانستان جهاد په بري سره پرمخ روان دی او امت ته دازادی پیغام ورکوي

په دوهم مخ

ضربه کوبنده برقطار رژیم

طبق یك خبر جهادی مجاهدین بتاریخ ٥ حوت دریك عملیات موفقانه ده تانك وسی عراده موتر یك قطار رژیم کابل رادرمنطقه تنگی خلم نابود ساختند .

خبرحاکیست عملیات برقطاردشمن که بالای شهراه کابل حیرتان درحرکت بود انجام گردیده وشهراه بکلی مسدود گردید .

همچنان خبرمی افزاید که تلاش قوای رژیم جهت بازنمودن شهراه ازمجاهدین به ناکامی مواجه ساخته شد-ازتلفات جانی طرفین درین عملیات اطلاع داده نشده است .

عراق دمتحدینو شرطونه ومنل

دمتحدینو اودعراقي پوځیانو ترمنځ په خبرواترو کی چی دحوت په ۱۲ نیټه ترسره شوي ، دواړه خواوی دجنګ بندولو اودنیول شویو پوځیانو په خوشی کولو رضا شویدي دغه ټکی داتحادي پوځونو لوی قوماندان جنرال نارمن شوزکوف دخبرو اترو څخه وروسته ژورنالستانو ته څرګندکړجنرال نارمن وویل عراقیان پدی هم رضا شویدي چی ټول بنځ شوي مینونه به په ګوته کوي اودجنګ بندولو دفیصلی له لاس لیك نه وروسته به ټول اتحادي پوځونه دعراق دسیمو څخه وځي داخبری اتری دعراق په نیول شوي سیمه دصفان په هوایي ډګر کی وشوی پدی خبرو اترو کی دامریکایي پوځونو مشرجنرال نارمن، دسعودي عربستان دپوځونو مشر جنرال شهزاده خالد بن سلطان اودعراق لخوا نه نامعلومو پوځیانو ګډون کړی ؤ.

په غزنی کی دمزدوررژیم ٦ کسه مړه او۸ نورټپیان شوی

غزنی ، میډیا :

دغزنی ولایت سرتیرو مجاهدینو دحوت په دریمه نیټه دخپلو درنووسلوپه برید سره دغزنی ولایت دقلعه ادم خان په پوستو کی ددښمن ٦ کسه وژلی او۸ کسه نوری ټپیان کړی .

په دغه راپورکی راغلی چی دمجاهدینو ددی برید له امله ددښمن یو زیات شمیر سنګرونه ویجاړشوی.

تمام چاههای نفتی کویت خساره مند یاآتش گرفته است

شرکت ملی نفت کویت اعلام نموده است که تمام نهصدوپنجاه چاه نفتی انکشور یا خساره مند ویا هم دراثر خرابکاری عراقی هاوبمباردمان قوای متحدین اتش گرفته است .

اژانس رویتر ازقول مامورین شرکت مذکور گفته است که عراقی ها تواماْحمله دوم اگست ۱۹۹۰ تمام چاه ها رامااین گزاری نمودنداما خسارات شدید درهفته گذشته هنگامی وارد امد که قوای عراقی بیشتر چاه ها راحریق نمودند واکنون برفراز چاههای مذکور به ارتفاع ازپنجاه تاصد فت زبانه اتش بمشاهده میرسد گفته شده است که به تعداد ۲٤ حلقه چاه نفتی کویت نیز دراثر بمباردمان قوای متحدین حریق گردیده است .

جنگ نوکران رژیم براموال تاراج شده مردم

دوازده نفر هلاك وبیست دوتن ازخادستان وملیشای رژیم هنگامی هلاك شدند که قوای خادرژیم بریکی ازپسته های ملیشای حکومتی که مسوولیت به اصطلاح امنیت منطقه جرخشك مسیر سرك علاقه داری علی ابادرنزدیکی شهربغلان رابه عهده داشت حمله نمودند .

خبرگزاری میدیا به نقل ازشاهدان عینی ضمن انتشار مطلب فوق علاوه نموده است که علت برخورد دوطرف جیره خواران رژیم کمونست کابل اختلافات روی چپاول مردم است که بنام پوسته امنیتی صورت می گیرد وهریك ازدودسته خائنین میخواهند صلاحیت وامکان چوروچپاول مردم راداشته باشند.

بسم الله الرحمن الرحیم

وشاورهم فی الامر فاذا عزمت فتوکل علی الله ان الله یحب المتوکلین

دافغانستان دجهادي قوماندانانو دسرتاسري شورا ددعوت دکمیسیون ګډه اعلامیه

دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا د«۱۳٦۹هـ ش » کال دچنګابن دلومړی نیټی دفیصلو په اساس چی دافغانستان په دننه کی جوړه شوی وه ، دسرتاسری شورا ددعوت دکمیسیون هیئت د«۱۳٦۹ » هـ ش کال دسلواغی دمیاشتی «۲۸ » نیټی نه دکب دمیاشتی تر« ٥ » نیټی پوری دجنوب غرب دحوزی دعلماوو، قوماندانانو اودمختلفو قومونودمشرانو سره دمذاکری اوتفاهم لپاره کویټی ته تللی ؤ .

وروسته لدی چی دنوموړی حوزی دیو شمیر قوماندانانو سره چی شمیر یی له (۲٥۰) تنو څخه زیات ؤ مذاکری اومفاهمی ترسره شوی لاندینی تصمیمونه ونیول شول:

الف :- ځلوېښت کسیز کمیسیون دپراخو نظامی اوامنیتی فعالیتونو دهم اهنګی اوانسجام په غرض اودمحلد رژیم دراپرځولو اوداسلامی حکومت دقایمیدلو لپاره وټاکل شو .

ب :- دکمیسیون دغونډو اواداری چارو دپرمختګ لپاره یوه نمایندګی جوړه شوه اوپه کاریی پیل وکړ .

ج :- دنظامی اوامنیتي چارو دتنظیم اوهم اهنګی لپاره دفیصله شوی ستراتیژۍ له مخی دریوو مختلفو حوزوته هیئتونه وټاکل شول، ترڅو دمنطقی دټولو قوماندانانو سره پردعوت اومفاهمه برسیره دحوزو دتشکیلاتو اودنظامی اوامنیتی ګډو اومنظمو پلانونو په هکله لازم تصمیمونه ونیسی .

د :- هرهغه ورانديز اوپلان چی دجهاد درهبری دتفاهم اودافغانستان دمسلمان ملت دمستقیمی ارادی څخه پرته دافغانستان دقضیی دحل په باره کی چی تحمیلی بڼه اوسیاسی پلوی جنبه ولری دافغانستان دجهادی قوماندانانو په نزد دافغانستان دمسلمان اومجاهد ملت هغه حق سلبوی کوم چی دخپل برخه لیك دټاکلو لپاره یی لری ، اوزموږ دګران افغانستان په کورنیو چارو کی لاس وهنه شمیرل کیږی .

هـ :- شوراپه واضح توګه اعلاموی چی ددی شورا دتشکیل هدف دنظامی فعالیتونو انسجام اوګډه همکاری ده ، نه دا چی دجهاد درهبری دکدر اودجهادی قوماندانانو ترمینځ دفاصلی ایجادول دی ، ځکه چی دواړه دافغانستان دمسلمان ملت دواقعی جهاد ممثلین اوپه خپلو مینځو کی نه بیلیدونکی اجزاوی دی . ومن الله التوفیق

« دافغانستان دجهادی قوماندانانو سرتاسری شورا »

سرمقاله

داستعمار یو نوی پټېټونی په نوي پرده کې

په تیره ګنه کې مو « پاکستان ته دروسي هیئت دیو بل اړخ » ترعنوان لاندې دیوه داسې سازش په رابطه خبرې کړې وې چې هغه په رښتیا سره زموږ دپرمیال اسلامي انقلاب دعظمت اوشوکت پرخلاف یو څرګند ګواښ ګڼل کیږي.دخپرو شویو خبرونو له مخې ددغه سازش اړخونه بیا داسې څرګند شول شوي چې هغوی غوښتل په افغانستان کې څه کوي ان پر کرملین دشین بیرغ داوچتولو ادعا اوتکل درلود اودیوه سوچه اسلامي حکومت په اداپه اودانقلاب په لیکوکې خوې لا دداسې کسانوموجودیت هم تشو زغملی چې هغوی به دپخوانیو حکومتونو په ادارو کې څه لوړپوستونه درلودل.

په خپرو شویو خبرونو اوتبصرو کې راغلي چې روسي هیئت داسې یوه طرحه له ځان سره راوړې وه چې دهغې له مخې به مجاهدین دوطن ګوند چې هماغه دخلق او پرچم دکمونستي ګوند دوهم نوم دی په رسمیت پیژني اوپه راتلونکو انتخاباتو کې به برخه ورکوي اودا انتخابات په

۸ مخ

پر افغانانو دټولي نړی مسلمانان افتخار کوي ،ځکه چي داسلام عظمت اودکفر دماتي کارنامه ددوی په متو ترسره شوي

« الحاج حقاني »

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

په اوسني وخت کې چټك ابتکاراونوښت ته اړتیا ده

اوس چې دخلیج جګړې دنړیوالو ټوله توجه ځان ته اړولی اونور ټول نړیوال مسایل یې ترخپلی شعاع لاندې راوستی دافغانستان جهاد دسرنوشت په هکله دمسوولانه اوجدي ګامونو اوچتو لو ضرورت ترپخوا زیات احساسیږي .

په نړۍ کې ژوند جریان لری اوهره ورځ نوی نوی بدلونونه رامنځته کیږي ، چې دهری ورځی په تیریدلو سره دافغانستان مسئله دزړوقضایاو ټولي ته ورټیل وهل کیږي ، په دې ترتیب دافغانستان قضیه دنړیوالی قضیی نه سیمه ایزی اوبالاخره دیو هیواد دکورنۍ شخړې پوړۍ ته راټیټیږي ، داسمه ده چې افغانانو دروسانو سترنظامی قوت ته ماتی ورکړه اودکمونیزم نړیوال شکست ته یې زمینه مساعده کړه خوپه دې هم باید قناعت ولرو چې نوره نړۍ زموږ جهاد اومبارزی ته په هغه سترګه نه ګوري کومه چې موږ ورته ګورو. نړیوال دافغانانو دپوځی بری ځخه وروسته دمجاهدینو ابتکاراتو اونوښتونو ته منتظردي ، ټول غواړي دمجاهدینو لخوا داسی یو معقول پروګرام وړاندې شي چې په افغانستان کې سوله ایزژوند اودهر افغان دپاره مطمئنه راتلونکي تضمین کړي .

په نظامي برخه کې په بریالیتوبونو اودجګړې په ډګر کې په ترلاسه شویو افتخاراتو ویاړکول اوشعارورکول ، زموږ دردنه شي دوا کولی ، که په هوښیاری سره دراتلونکي په باب فکرونه شي ، اساسي مشکلات تشخیص اودحل لارې یې ونه لټول شي داپه ډیرو قربانیو ترلاسه شوي افتخارات به خدای مه کړه له لاسه ووځي همدارنګه دابه سمه نه وي چې دهرې نیمګړتیاپړه دې دشرق اوغرب په غاړه واچول شي ، ځکه داطبیعي خبره ده چې نړیوال کفري طاقتونه به تروروستیو امکاناتو پورې په افغانستان کې داسلامي نظام دجوړیدو مخنیوی کوي ، خوپه دغه لارکې دپیداشویو خنډونو لیرې کول زموږ وظیفه اوشرعي تکلیف دی ، اوموږ باید دهیچانه داتمه ونه لرو چې زموږ دخوښی حکومت موږ ته جوړکړي !

دادی دروسانو دوتلو نه پوره دوه کاله تیرشول ، خوهرافغان په خواشینۍ سره وینې چې ددغو دووکلونو په جریان کې دپرمختګ پرځای حالات په داسې لورروان دي چې دلس کلن جهاد ثمرې یې په خطرکې اچولي مؤقت حکومت دجوړیدو دورځې نه تراوسه چې دویجاړیدو په درشل کې دی ، پرته له دې چې دیوې عاطلې اوباطلې دستګاه نمونه په ننداره کیږدي،بل هیڅ شی ونکړل .

اوس چې مؤقت حکومت دمالي ستونځو له امله خپلو مامورینو ته هم ځواب ورکړی ، اوعملاً دنابودۍ په لورروان دی ، دځینو جهادي مشرانو له خوا دیوې بلې طرحې پیشنهادشوی دی ، ویل کیږي داطرحه اتحاد اسلامي ، حزب اسلامي اوجمعیت اسلامي وړاندې کړې ده ، داطرحه دهغې قیادي شورا دبیا احیا کولو غوښتنه کوي چې دمؤقت حکومت دتشکیل نه مخکې یې وجود درلود ، اوپه هغې کې داووتنظیمونو مشرانو عضویت درلود ، که څه هم چې ددغې طرحې په باب تراوسه رسمي اعلان نه دی شوی اونه داوو تنظیمونو

په (۷)مخ

دافغانستان جهاد په بري سره پرمخ روان دی او امت ته دازادۍ پیغام ورکوي

پدې وروستیو وختو کې د«صدای مجاهد» دمیاشتنۍ اردو مجلې مدیر دافغانستان دجهادي سنګرونو دنامتو مشر الحاج مولوي جلال الدین حقاني سره مرکه وکړه چې موږیې دلته ژباړه دجهاد هنداری محترمولوستونکو ته وړاندې کوو.

(اداره)

پوښتنه :- دخلیج کشاله ترډیره حده کړکیچنه شویده ایا دخلیج کشاله به دافغانستان په مقدس جهاد څه بده اغیزه وکړای شي ؟

ځواب :- نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد ! هو! دخلیج داوسنی کشالی نه چې دافغانستان په مسئله کومې ښکاره بدې اغیزې شویدي هغه په دری ډوله دي

لومړی دا چې دمجاهدینو سره په کومې مالی مرستې دعربی هیوادونو لخوانه کیدی په هغی کې ډیر زیات کمی راغلی ، اودعربو هغه کورنۍ کومو چې دافغانستان دجهاد سره دزړه له کومی مینه درلوده اوپه دغه لارکې یې خپل مالونه لګول اودغه جهاد یې خپله نیکمرغی ګڼله دخلیج بدمرغه کړکیچ دې ته پرې نښودل چې دافغانستان دمهاجرینو اومهاجرینو سره په خلاص مټ مرسته وکړای شی .

دوهم ترټولو مهمه داچې ددغه کړکیچ له امله دګردی نړی دخلکو اود منابعو پاملرنه دافغانستان دمسئلې څخه اوښتی ده دنړۍ زیات شمیر مسلمانانوددې جهاد سره ډیره مینه درلوده اوددوی دغه مینه اوهمدردی دمجاهدینو دحوصلو دلوړاوی یوه وسیله وه اوخبری منابعویه هم هره ورځ دمجاهدینو دکامیابه اودکابل دګوډاګی حکومت دماتی اورسوایی خبرونه خپرول

> مجاهدینو همیشه دالله تعالی (ج) په کومك باور اواعتماد کړی اودخپل دښمن مقابله یې کړیده اواوس هم دمجاهدینو سره لوی قوت همدغه دی.

خوکله چې دخلیج شخړه رامنځ ته شویده دهغی ورځی نه دټولو خلکو اودمنابعوپاملرنه دافغانستان دمسئلې څخه اوښتی ځکه چې دخلیج شخړې په ټولو اذهانو باندې منګولی ښخی کړیدی کې یې جهادته ادامه ورکوله ددغی شخړی درامنځ ته کیدو څخه وروسته دهغوی په شمیر کې ډیر زیات کمی راغلی ځکه چې په داسې حالاتو کې دځوانانو راتګ دهغه ځایه ډیر مشکل دی اوځنی لاری هم بندی شویدي

اودهرچاذهن نه یې دافغانستان مسئله ایستلې ده حال داچې دافغانستان جهاد په بری سره پرمخ روان دی او امت ته دازادی اوخپلواکی پیغام ورکوی اوتریوی ورځی څخه بلی ته دجهاد په فتوحاتواوکامیابیو کې زیاتوالی راځی خو کافران نه غواړی چې دغه جهاد خپله ځلانده نتیجه ترلاسه کړی نوله دې کبله هغوی دمسلمانانو دپاملرنی داړولو لپاره ډیر زیات کوششونه کوی .

دریمه اغیزه داده هغه عرب ځوانان کوم چې دجهاد په مینه مست وو خپل هیواد یې پریښی اوپه افغانستان

پوښتنه : - دافغانستان جهاد چې دکوم اساسی مقصد لپاره پیل شوی ؤ ایا په هغی کې به څه بدلون رامنځ ته شي ؟

ځواب :- دافغانستان جهاد اوس دهمغه مقصد اوهدف لپاره روان دی دکوم لپاره چې پیل شوی ؤ اوترڅوپوری چې دغه اساسی مقصدونه نه وی ترلاسه شوی ترهغه وخته پوری به په افغانستان کې دحق اوباطل دغه جګړه روانه وي مجاهدینو همیشه دالله تعالی (ج) په کومك باور اواعتماد کړی اودخپل دښمن مقابله یې کړیده اواوس هم دمجاهدینو سره لوی قوت همدغه دی دنړۍ ستربدلونونه مجاهدین دخپل مقصد اومرام څخه نشی اړولای .

پوښتنه :- دمجاهدینو فتحی ورځ په ورځ زیاتیږی لیکن ددې سره سره بیا هم کابل فتحه نه شو ، دکابل په نیولوکې کومه خبره مانع ده؟

ځواب :- کامیابی اوناکامی دالله تعالی (ج) په لاس کې ده اوددې شیانو تعلق هم دغیبو سره دی هیڅوك هم

(۷)مخ

دحضرت عمر فاروق (رض) دغونډ سرپرست دجهاد هنداره له خبریال سره په مرکه کې :

دحضرت عمرفاروق (رض) غونډ مجاهدین همدا اوس دپکتیا ولایت په بیلا بیلو سیموکې په وسله وال جهاد بوخت دي

مرکه کوونکی (ر- ملاخیل)

پوښتنه : مهربانی وکړی ترټولو لومړی خپل ځان دجهاد هنداره لوستونکو ته معرفی کړی ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم

زما نوم حاجي محمد نسیم دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالۍ اوسیدونکی اوفعلاً دعمرفاروق (رض) دغونډ دسرپرست په توګه دنده ترسره کوم .

پوښتنه : لطفاً دحضرت عمر فاروق (رض) دغونډ دجهادی پس منظر په هکله معلومات راکړی ؟

ځواب : دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ دجهاد له خورا پخوانیواوتاریخی غونډونو څخه دی چې دژوری دغونډ په نامه شهرت لری ، ددې غونډ پخوانی نوم د(شهید احمد شاه غونډ) وُ چې اوس یې نوم دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ دی.

دې غونډ دجهادی تاریخ په بیلا بیلو برخو کې بې ساری قربانی ورکړی ، په یوه مرحله کې دغه غونډ دروسانواودهغوی دمزدوررژیم دقواو له خوا نیول شوی وُ چې دډیری قربانی په ورکولو سره مجاهدینو بیرته ازاد کړ همدااوس ددې غونډ مجاهدین دپکتیا ولایت په بیلا بیلو سنګرونو لکه خوست ، دستهو کنډو ، زرمت اوداسی نورو سیمو کې په جهاد بوخت دي .

پوښتنه : مهربانی وکړی ددې غونډ دتشکیلاتو اوپرسونل په هکله لوستونکو ته معلومات ورکړی؟

ځواب : زموږ دغونډ دمجاهدینو اومنسوبینو عمومی شمیر (۷۰۰) کسانو ته رسیږی چې پدی کې څلور پیاده ټولی ، یو(خاص) ټولی ، همدارنګه دنقلیه بلوك،دخدمت بلوك اوداکمالاتو بلوك لرو اودغونډ عمومي قوماندان مجاهد ورور الحاج محمد ابراهیم دی .

پوښتنه : محترم حاجي صاحب که مهربانی وکړی اوددې غونډ دشهیدانو ، معیوبینو ،اوزخمیانو په هکله دجهاد له پیل څخه تراوسه معلومات راکړی ؟

ځواب : زموږ دشهیدانو تعداد دجهاد له ابتدا څخه ترننه پوری تقریباً (۸۵) کسانو ته رسیږی ،اوداهغه شهیدان دي چې پدی غونډ کې یې رسمی وظیفه اجراکړی ، دمجاهد،ضابط اویا دمامور په صفت .

سربیره پردې له «۷۰» څخه تر «۱۰۰» سلو پوری هغه مجاهدین شهیدان شوی چې له مختلفو جبهاتو څخه دغه غونډ ته دجهاد لپاره راغلی همدارنګه (۲۵) کسه معیوبین موږ لرو ، دزخمیانو شمیر مو هم دسلو په شاوخوا کې دی .

(۷)مخ

په افغانستان کې دکی، جی، بی ورانوونکي فعالیتونه

داکسا - کام - خاد - واد تشکیلات، فعالیتونه اوجنایات

عبدالوکیل

پدغه مقاله کې به ولولی چې :

* روسانو خپلی جاسوسی شبکی څنګه فعالی کړې .
* په افغانستان کې دکی ، جی ، بی فعالیتونه څه بڼه لری .
* دظاهرشاه دواکمنی په وخت کې کی ، جی ، بی څه ډول فعالیت کاوه .
* په روسیه کې دافغانی محصلینو په رابطه کی ، جی ، بی څه ورفعالیتونه کوی .
* په پوځ کې کمونست ګوند ته دجذب اوجلب طریقه څه وړوه .
* په قبایلی سیمو- پاکستان اوایران کې دخاد تخریبی فعالیتونه څه ډول ؤ او ...

د «کی ، جی ، بی» مفهوم :

«کی ، جی ، بی» دروسانو دپټو پولیسو یااستخباراتی دستګاه نوم دی او د «دولتی امنیت کمیتی» مفهوم لری چی کی (K) عبارت د «کمتیت یاکمیتی»، جی (G) عبارت له «ګاسودرستو» یادولت (روسان دیو شمیر اصطلاحاتو «G» په «ګی» سره تلفظ کوی اونوموړی دفساد منبع «کی ګی بی» لولی) اوبی (B) عبارت له «بیزاپاسنستی» یا امنیت معنی لری اومخفف یی «کی ، جی ، بی» ($K.G.B$) جوړوی .

د۱۹۱۷ م کال داکتوبر انسانی ضدبدلون دروسانو دپټو پولیسو دستګاه لانوره هم خطر ناکه اوانسان خوره کړه ، په دی مرحله کې دروسانو دپټو پولیسو یعنی «چکا» (په هغه وخت کی «کی ، جی ، بی» د «چکا» په نوم یادیده) کارونه د «لینن» لخوا د «دزرژنسکی» په نوم یوه زړنګ ، ظالم ، ماهراوانسان نما داړونکی ته وسپارل چې یوازی «لینن» ته مسؤل ؤ یعنی دمهمو پیښو راپوریه یی لینن ته وړاندی کاوه اونور نوپه انسان وژنه اوشکنجو ورکولو کې کامل اختیاره کمونیست ؤ .

« لینن » اوبلشویکانو ددوی په امپراطوری کی بښکیل ولسونه کوموچه دلینن په مشری د۱۹۱۷ م کال داکتوبر انسانی اوترقی ضد بدلون سره مخالفت څرګندکړمرتجع ، ترقی ضد ، اودفیودالی اوبورژوازی نمایندګان اوطرفداران وبلل اودروسانو دغه دپټوپولیسوارګان دنوموړی بدلون ټول مخالفین یاپه فزیکی ډول سره له منځه یووړل اویا یی ترسختو شکنجو وروسته بندیان اوبېروونکوکارونو ته سوق کړل ، دغو خطرناکو پولیسو دروسانو په ټوله امپراطوری کې دویرې اووحشت څپې خپرې کړې چې تردې نن پوری څوك نړدی دوست اوخپل فامیل ته هم دزړه رازنه شی ویلی اوددوی ترتسلط لاندی ټول ولسونه یی دیوه چارپیره شوی دیوال په بڼه ددایمی بندیانو په څیر راګیر کړل .

دروسانو په کمونستی امپراطوری کې دکورنی اوباندینی سیاست ټاکونکی قدرت یوازی همداارګان دی اودرئیس جمهور، دکمونست ګوند عمومی منشی اویانورو مهمو اوحساسو ګوندی اودولتی څوکیو لپاره ددوی دخوښی اشخاص پخواتردې چې مقرراویا هغه اشغال کړی ، تعین کیږی. دهری حساسی څوکی اومقام لپاره نه تنها یو نفربلکې په سلسله سره څو نفره په نظر کې نیسی چې که چیری لومړی دمختلفو عواملو له مخی خپل مقام له لاسه ورکوی ځای یې، باید د «کی ، جی ، بی » دخوښی دوهم اوپه همدی ترتیب سره دریم اوڅلورم ته پاتی شی دغه وینی څښونکی دستګاه دبهرنیو هیوادونو لپاره

په افغانستان کې دامیر امان الله خان دقدرت په دوره کې د(کی ، جی ، بی) نفوذ :

(۱۲۹۸ - ۱۳۰۸ هـ ش)

کله چی روسانو دمنځنی آسیا خپلواك اسلامی هیوادونه یوپه بل پسی ترخپل استعمار لاندی راوستل نوپر افغانستان باندی دهغوی تسلط اوددوی لاری څخه دهند بحرته رسیدل یی په اوږده ستراتیژی تبدیل شول اوپه افغانستان کې یې دامیر امان الله خان دقدرت څخه لا پخوا خپلی استعماری

د۱۹۱۷ م کال داکتوبر انساني ضد بدلون دروسانو دپټو پولیسو دستګاه لانوره هم خطرناکه اوانسان خوره کړه.

مخصوصی ځانګی لری چی دروسی امپراطوری په داخل اوهم دهغی څخه بهر دفساداوجنایت مهمه اوخطرناکه منبع ګرځیدلی ده دغه دوزخی دستګاه داسلام اوافغانستان دمسلمانانو اواسلامی خاوری په تباهی ، بربادی اوترخپل تسلط لاندی راوستلو کی دهیڅ ډول شیطانی هلو ځلو څخه ډډه نه کوی .

اواستخباراتی چاری پیل کړی وې خودامان الله خان دقدرت په وخت کې (۱۲۹۸ هـ ش کال کې) روسی سیاسی نماینده ګی ته دلمړی ځل لپاره په کابل کې په رسمی ډول سره ځای ورکول ددی سبب شول چې روسان په افغانستان کې خپل شیطانی اواستعماری هدفونه په مستقیم ډول سره لانورهم ګړندی کړی . په شپږم مخ

کشمیر برفرازراه انقلاب !

رحیمزی

نویسنده شهیر وناول نګار چیره دست پاکستان «نسیم حجازی» درمقدمه یکی ازناول های تاریخی خویش می نویسد :

« درزندګی هرقوم روزی فرامی رسد که فیصله شمشیر نسبت به قلم درست می باشد ، درجهان کنونی عزت وسرفرازی برای انانی است که می توانند قیمت انرا ادانمایند .

نسیم نخلستان ازادی تنها درسرزمین های می وزد که باخون شهدا سیراب شده باشد !

داستان عظمت وسربلندی ملت ها تنها باخونی نوشته شده می تواند ، که برای ریختن نا ارام باشد ! وهنګامیکه خون دررګ ها می خشکد ، ان هنګام دیګر اشك کاری نمی تواند انجام دهد »

واقعاً درتاریخ ملت ها روزی هم فرامی رسد که فیصله شمشیر بر همه فیصله ها غالب می باشد ، وملت ها می توانند تنها با پیشکش قربانی وریختاندن خون خویش ازادی خویش رابدست بیاورند.

ملت مبارز ما نیز درطول تاریخ طویل خویش بارها مورد تاخت وتاز اجانب قرار ګرفته ، همیشه برمیدان مبارزه پانهاده و با تجاوز ګران به ستیزه برخاسته است.

تنها ۳ جنګ افغان وانګلیس که دران متجاوزین با شکست فاحش روبرو شده اند ، وملت قهرمان ما توانسته استقلال سیاسی خویش راکسب نماید ، بعداً مقاومت شجاعانه وقربانی های بی دریغ این ملت مظلوم درمقابل تجاوز ظالمانه ووحشیانه استعمارګران سرخ که باریختن خون یك ونیم ملیون انسان ، متجاوز ګران راازخاك خویش راندند می توانند مثال های خوبی به این مدعا باشند !

ملت مظلوم کشمیرنیز بیشترازچهل سال است که درګیردار مبارزه با عظمت طلبان هندی می باشد.

مسلمانان کشمیری بعد از انکه کشور پاکستان توانست استقلال خویش را تحت لوای اسلام ازهند حاصل نماید ، تاامروز مصروف پیکاربا عظمت خواهان هندی بوده اند وبا تقدیم قربانی های فراوان ، وباخط سرخ خون خویش ، تاریخ مبارزات خویش را رقم می زنند .

ارتش خونخوار هند که درجنایت ووحشی ګری ، دست کم ازروسهای سفاك ندارد ، درطول این عرصه طویل ، بصورت مسلسل به قتل انسانهای مظلوم وبی ګناه کشمیر پرداخته ودراین وحشی ګری های خود تاان حد پیش رفته اند که حتی اطفال معصوم ، زنان بی ګناه ومو سفیدان بی بضاعت نیز ازچنګال بی رحم این برهمنیان ، نمی توانند رهایی یابند ، واین درست همان تصور یست که می توان ازجنایات ۱۱ ساله قشون متجاوز سرخ درکشور مان ارایه کرد !

ولی با وجود این همه ظلم ووحشت ، مبارزین کشمیری ارام نه نشسته اند ، ومسلسل به پیکارخونین خویش علیه انها ادامه داده اند ، تاحدیکه حالا (درمدت کمتر ازدوسال) مبارزین کشمیری توانسته اند ، ضربات قوی برپیکر ارتش متجاوز هند وارد سازند .

مرمی ګشودن برمظاهره کننده ګان دست خالی وبی ګناه ، قتل وغارت اهالی قریه ها ، تجاوز به عفت زنان مسلمان وبا عصمت ، ازجمله حربه هایی است که متجاوزین هندی انرا جهت به اسارت کشانیدن ملت مظلوم کشمیر استعمال می نمایند

سال ګذشته عساکر هندي درهنګام تشیع جنازه میرواعظ مولوي فاروق برصد ها هزارتن اززن ومرد اشتراك کننده درجنازه مذکور اتش کشودند وباعث شهادت بیش از ۲۵۰ تن ازاهالي کشمیر ګردیدند

ولی ملت بپا خاسته کشمیر دیګر بیدار ګشته وهیچ حربه نمیتواند درراه انتقام ګیری خون شهدای ایشان سد ګردد .

یك ژورنالیست پاکستانی به نقل ازمنابع ازادی خواهان کشمیر سال ګذشته ګزارش داده بود که : ازادی خواهان کشمیری بتاریخ ۱۳ جنوری ۱۹۹۰ بابمب های پترولی برمراکز نظامی متجاوزین هندی درسرینګر حمله ورشده وعمارات متعدد را منفجر ساختند .

همچنان دریك ګزارش دیګر امده است : عساکر هندی روز ۲۱ می ۱۹۹۰ درهنګام تشیع جنازه میر واعظ مولوی فاروق یکی ازرهبران مذهبی تحریك ازادی خواهی مردم کشمیر، برصدها هزارتن اززن ومرد اشتراك کننده در جنازه مذکور اتش ګشودند ، وباعث شهادت بیش از ۲۵۰ تن ازاهالی کشمیر ګردیدند.

این دوګزارش کوچك وصدها ګزارش همانند ان بخوبی نشان می دهند که ملت بیدار کشمیر دیګرقبول ندارد ، تاتحت سلطه اجانب زندګی کند .

رژیم متجاوز هند باروا داشتن همه ظلم وستم برملت کشمیر که در ادوار تاریخ کمتر نظیر ان دیده شده است ، نمی تواند این جذبه حریت وازادی راکه دراذهان فرد فرد ملت مبارز ومسلمان کشمیر بیدارګشته ، خفه نماید همانطوریکه روسها نتوانستند حس ازادی واسلام خواهی ملت سلحشورافغان راخاموش سازند !

هندی ها درست همانند روسها بازیر پا ګذاشتن همه اساسات بشر دوستی وقوانین بین المللی به جنایات روزافزون خود دروادی کشمیر ادامه می دهند ، ودرمقابل ان ازادی خواهان کشمیری برحملات نظامی خویش برمراکز نظامی ارتش متجاوز هند شدت بخشیده اند. کمیسیون حقوق بشر درواشنګتن تشویش عمیق خودرا ازظلم سال ګذشته ارتش هندی برمسلمانان کشمیر ابراز داشت ، این کمیسیون ازوضع اسفباراهالی مظلوم وبی دفاع کشمیر اظهار نګرانی عمیق نموده اضافه نموده است که ارتش متجاوز هندهنګام تلاشی منازل مسکونی سامان الات ګران بها وجواهرات رامی دزدند ، افرادی راکه دردوران تلاشی

درصفحه ششم

موږه روان يو دمنزل داوږد سفر په لاره
د تورو شپو په زړه کې پيل د سحر په لاره
لاس يې آزاد موږ د تيارو غلوته په ډاگه وايو
زموږ ژوندون ټول له يوه مخ دي د خطر په لاره

هجران

کوهري

بيا مې په زړگي جوړ پرهرونه دي
بيا مې تازه شوي ټول زخمونه دي
بيا مې انديښنې له زړه چاپېر شوې
بيا مې کوچېدلي ټول خوبونه دي
وسوځېدې هيلې ارزوگانې مې
پاته يې سرې ايرې يادونه دي
والوتې د بخت کوترې والوتې
ورانې اشيانې او محفلونه دي
لمر دا زادې پټ شو په وريځو کې
تورې ترږمۍ تورمابنامونه دي
زړه مې پرسيدونه په چاودون راغې
سترې وارخطا مې اميدونه دي
نورمې زخمي زړه د تخنيدونه دي
زړه کې مې د سرو وينو بهونه دي
مه غواړي له مانه مستي مه غواړي
هيرا ځنې هغه داستانونه دي
ټول وطن مې وران شو لوټې لوټې شو
هرې خوانه جوړې تاړاکونه دي
لاندې شول ترخاورو د وطن زلمي
رنگ مې د وطن ټول مسجدونه دي
تيت شول په ملکونو ټول وگړي مو
ژوند باندې ميرات يې انگرونه دي
خدايه ! بيا راټول کړې دا مؤمن ولس
زړه کې د گوهر دا ارمانونه دي

(پوانستې ليک)

دليکوال په نوم

ليکواله وروره !
تاوده سلامونه مې ومنه اوښې هيلې !
قلم دې دجهاد علم اوسه اوپه دې تيره قلم دې ددښمن سينه قلم ، قلم !
داسمه ده چې ستا دقلم څنه دوسله وال مجاهد تر ټوپک وړه ده اوکمه
خوداهم پټه نه ده چې ستا دقلم متره (۱) ترهغې کمه نه ده بلکه ورسره سمه ده اوترې اسمه !
ټوپک صف په ښبه کوي اوقلم هدف .
توره مېخه روښانوي اوقلم موخه (۲) .
دټوپک خونه ديوې جبهې جهت ټاکي اوديوه سنگر !
دقلم څوکه ديوه ملت جهت ټاکي اوديوه اولس !
نوځکه :
ستاقلم دمبارزې علم دی اودجهاد قدم !
خوبويه :
چې معقوله تشبث پرې وکړې نه تلوث ! نه يې دغرض اله کړې اونه دمرض؟
معرض ! نه تعصب ته مخه ورکړې اونه تقلب ته !
لاره يې کږه نه کړې اولوری يې غلط !
څوکه يې مېښوکه نه کړې يا زيږوکی (۳)
قلم چلول وکړې خوچل ول نه !

بويه چې :
سپېڅلتيا يې وساتې اوپياوړتيا !

اوبويه چې :
دپاڅون په بهير کې يې وهڅوې اوداوښتون !
دجهاد په لاره کې يې وخوځوې اوداتحاد !
که داسې دې وکړل :
نوستا قلم به هغه مقدس قلم وي ،
اوستاد قلم کرښې به هغه سپېڅلې کرښې
چې لوی خدای (ج) سوگندپرې اخلي اوقسم :
«ن ه والقلم ومايسطرون »

(۱) متره = توان ، قوت
(۲) موخه = نښان ، هدف
(۳) زيږوکی = برس

ح- رفيع

دهاد ثو اتلان !

شفيقي

دغه چوپتيا ، دغه سکوت دڅه دی !
ولې دننگ مستې نعرې چوپې دي ؟
دغيرتونو ، هنگامو وطنه !
غيرکې دې څه له هنگامې چوپې دي ؟
چې له ماتم که له هوسه وايه !
ستادبچيانو گونگوسې چوپې دي ؟
*** *** ***
څه شولې هغه توپانې ولولې ؟
چې په هيبت د ستر شيطان لړزاوه
چيرته دي هغه هوډ يالي مؤمنان ؟
چې هرقدم به يې جهان لړزاوه
چوپې دي ولې اروا پالې کريکې ؟
چې له ازانگو يې اسمان لړزاوه
*** *** ***
ستا هغه نراوغيرتې ميړونه !
دا ستکبار دغرولاړې غاړې
دکوم تدبير په سوچ کې غلي ناست دي
که له طاغوت نه مينه داري غاړې ؟
دکوم تزوير په منترگونگ غونډې دي ؟
که دغيرت دوينو داري غاړې ؟
*** *** ***
وطنه ستا هغه سرلوړي بچيان !
په قربانيو خوپښيمانه نه دي ؟
دننگ دلاري توريالي ميړونه !
له غورځنگونو خوستومانه نه دي ؟
هادتهکراوحادثو اتلان
وايه له يون نه خو ناتوانه نه دي ؟
*** *** ***
وطنه وايه ننگياليو ته دي !
نوردسکوت توري پردې پورته کړي
چې په ازانگوئې جهان لړزاوه
دتکبير هغسې نعرې پورته کړي
دوروستي فتحې اوبري لپاره
دننگ په لاره قافلې پورته کړي

لندۍ

ما د جهاد دلارې گل کړې
چې مال مې نه خوري مجاهد مې بويه وينه

په سکربيست ماشين يې وله
چې دخلقيانو مورچې درې وړې کړينه

دحقانې سره جهاد کړم
چې يا شهيد شم يا غازي په دنيا شمه

راليږونکی : نورعلي جان

لنډه کيسه

اووينه وڅڅيده

سيد شهريار

نن يې د ډيری ستړيا نه په لاره چوټې وهلی په درشل يې قدم نه ږايښی چې دپلار فريادونه يې تر غوږشول زړه يې ودرزيده او قدمونه يې گړندی کړل پلاريې په کټ کې پروت وليد ، ولی دادا؟ کله يې څوا ب ورکړ دادا نن بيا دسر دزخم نه فريادونه کوی هله په منډه يې کوم ډاکټر ته رسوه تاته خوچا دکوم ډاکتر ډير صفتونه کړی ديل پکې مه کوه دا يو دادا راته په کور کې پروت وی خدای پاك مكړه كه په ده باندې څه چل وشی نوزه به په دې يواځی کور کې څنگه ژوند تيروم ماخولا دابی اودفضل مرگ ندی هيرکړی اوڅنگه به يې هيرکړم دبابا په سرکی چې دگولی زخم تازه وی نوله موږ نه هغه صحنه هيريدی شی ؟ پروان هم ناراستی ونه کړه اوپه شا يې راواړاوه دموټرونو دهلی پوری يې چورت واهه : ماسره خوتولی شپيته روپی اودولس انی دي كه ډاكټر زياتی پيسی وغواړی نوڅه به کوم خير دی زه خومجبوريم ورته به ووايم همدارا سره دي مهاجريم خيرات به دي وشی څه خير خدای پاك دي خير راپيښ کړی دچورتونو په سيلاب کې لاهوچی دډاکتر صيب شخصی شفاخانی ته يې ځان راورساوه بيروبار ډير زيات ؤ بابايې ديوال ته ډډه کړ دډاکترځای ته چې ورننوت سری يې په سينه لاس ورکيښود لږ صبرکوه سره خوره ، تيکټ دې اخستی له

په پنځم مخ

تکل

دبې کسی اسويلی

صديقي

هلته شل ، ديرش خيمی ځنگ ترځنگ دريدلی رښتيا ټولی خيمی هم نه دي ، نيمی شکيدلی اوپه ټوټو گنډل شوی خيمی دي اوپاتی نوريې دتيکريو،لټو اوڅادرو څخه دخيمو په بڼه جوړ شوی سوری ، چې لاتدی تری څه ښځې ، ماشومان اوبی لاسه اوپښو انسانان دخپل هيواد دازادی اوځان دسوکالی په تمه ژوند کوی ، دادژړاگانو،مايوسيو اودبی کسئ داسويلو يوټولگی دی ، دلته له ژړاوخپگان پرته دخوشحالی نښی نښانی نه ښکاری ، په هره خيمه چې ورننوځی،واړه اوغټ دغمونو په سمندر کې لاميوزن ښكاری ، بس ددوی په برخه ستونزی او دبی کسی اسويلی رسيدلی اوبس ، څوکه واړه دي که زاړه اوکه ښځی همت يې ډير لوړدی ، ددوی دخيمو مخامخ ته دموټرو يوعمومی پوخ سړك دی چې په هره دقيقه کې پری لس ، دولس موټر تيريږی راتيريږی خودوی ته يې دشرپرته خيرنه رسيږی هرموټر چې تيرشی ددوی پرسر دگردونو يو نوی جال راوغوړوی اوبيا چې کوم يو يې دېل څخه مځکی کيږی اوډپاخه سړك څخه يې تيرونه راولويږی نوبيا خو خيمی په گردونو کې ورکی کړی هغوی ته دموټر داتگ راتگ يوبل مصيبت گرځيدلی ، ورځی دگردونو اوشپی يې دغراو هارنلونو څخه ارام نلری ، دسړك په څومتری کې لومړۍ خيمه خوبيا داسی ترگردونو لاندی پټه ده چې دځمکی سره پيژندل کيږی نه ، ښايی مجبوريه وی چې دلته يې اړولی دخيمی مخی ته ديوی پايی ترځنگ يوه

په پنځم مخ

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

په تیر پسې :

دمسلم ژباړه

اوما پرمخ تلو ته ادامه ورکړه ، دپرمخ تللو په وخت کې مې یوځای دسپیو غپا ترغوږشوه ، دی کارراته دکوم خوا تلو معما حل کړه زه وپوهیدم چې نږدی سیمه کې کوم کلی شته ، پرهماغه خوامی حرکت ته دوام ورکړ دکومه خوا چې دسپیو غپا واوریدل شوه ، دلمر نښانی ورو ورو راڅرګندی شوی چې زه کلی ته ورسیدم ، کوم کورمی چې ترټولو دمخه ترنظر راغی هماغه ته می ځان ور ورساوه دکورسره نږدی یو سپین ږیری لمانځه ته ځان چمتو کاوه ، هغه چې زه په روسی کالیو کې ولیدم چې ددوی کورته ورننوځم اندیښنه ورته پیداشوه هغه فکروکړ چې روسی قواو کلی محاصره کړی خوچې ما په ماته ګوډه فارسی هغه ته وویل زه یو مسلمان روسی پوځی یم اومجاهدینو ته رسیدل غواړم هغه سمدستی ماته خپل څادر راکړ اودکور شاته دوچو واښو په امبارکې دپټیدو مشوره راکړه ، ما لږه فارسی په ورکوتوالی کې دخپل پلارڅخه زده کړی وه ، سپین ږیری زه په واښو کې پټ کړم اوراته وې ویل چې ارام دلته پټ شه اودی بیرته لاړ، تریو دوه ساعتو پوری بیرته رانغی ، ماته اندیښنه پیداشوه چې هغه کمونست نه وی اوروسان زما له راتګ څخه خبرنکړی په همدی خاطر ماپه واښو کې خپل ځای بدل کړ، اوسپین ږیری چې چیرته پټ کړی وم دهغه ځای څخه راووتم اوځان مې دواښو په بل ځای کې پټ کړ ، ورځ تیره شوه خودسپین ږیری پته ونه لګیده ، شپه هم تیره شوه ، بل سهار سپین ږیری راغی هغه چې زه خپل ځای کې پیدانکړم سخت خپه شو خوماچې ترڅو پرهغه اطمینان پیدانکړ راونه وتم ، دتندی اولوږی دلاسه سخت بی حاله شوی وم ، په دی وخت کې باران پیل شو دخپل ځای څخه راووتم تنده مې ماته شوه اوبیرته خپل ځای ته لاړم زما دراوتو اوداخلیدو سره واښه ګډوډ شول اودهغوی یوه برخه راولویده ، ماښام کله چې سپین ږیری دکورشاته راغی اودواښو لویدلې برخه یې ولیده نوزما دموجودیت شك ورته پیداشو، ترهغی وروسته هغه زه راوباسلم اودکور داخل ته یی بوتلم ، هغه په کورکې ماته کالی راکړل ما پوځی کالی وباسل اوهغه می واغوستل ، وروسته هغه چای تیارکړ اوماته یې دوچې ډوډۍ سره یو ځای راکړاوما په ډېرخوند ډوډۍ دچای سره وخوړه تردی وروسته هغه زه دځان سره روان کړم اودمجاهدینو دمرکز خواته روان شو دڅلور ساعتو پیاده سفر څخه وروسته موږ دشوراب نومی کلی ته ورسیدو شپه موږ په یوه کور کې تیره کړه اوسهار وختی مو بیا خپل تګ ته دوام ورکړ ، داځل هغه سره څلور تنه نور هم ملګری شول چې زما دساتنی اورهنمایی لپاره یی دځان سره روان کړل دزیات سفر څخه وروسته دشرقدوك سیمی ته ورسیدو چې هلته سپین ږیری کاکا دمجاهدینو قوماندان عبدالقدوس ته وروسپارلم اودی بیرته راستون شو .

سرګي وایي : زه داسی هیواد ته تګ نه غواړم چې غلام وي په دی خاطر هغه باندی داخبره بنه نه لګیږي چې څوك دی ورته سرګي ووایي اوچی څوك ورڅخه وپوښتي هغه خپل نوم ورته اسلام الدين اخلي

دخپلی تیښتی داجریان رحمت الله ایوبیچ دافغان ایجنسی استازی ته ویلی هغه وایی : روسانو پرهغه سپین ږیری چې ده ته یې پناه ورکړی وه اودی یې دمجاهدینو مرکز ته ورساوه ډیر ظلم اوستم وکړ څوورځی وروسته کله چې روسان دسرګی دپیداکولو لپاره هغه کلی ته راغلل اودکورونو دتلاشی په دوران کې دسرګی پوځی کالی دهغه سپین ږیری له کورڅخه پیداکړل اودی یې ونیوه روسانوپرهغه دسرګی دځای ښودلوپه خاطر ډیر فشارراوړ اودژمی په سختوېخو شپو کې به یې هغه اوبو کې غوپه کړاوبیرته به چې یی راوباسه دبرق ټکانونه به یې ورکول خوددی ټولو سره سره سپین ږیری دسرګی ځای هغوی ته ونه ښود اوبالاخره روسانو دهغه ښځه اوزوی هم بندیان کړل ، کله چې دهغه څخه وپوښتل شول چې ددی روسی کالی څنګه دتاسو په کورکې دی ؟هغه به ویل ، زه نه پوهیږم ښایی چا زما دنیول کیدو په خاطر داکارکړی وی ، کله چې روسان پخپلو تحقیقاتوکې ناکام شول هغه یې سره دزوی په زور عسکری ته سوق کړاوبګرام ته یې ولیږل چې وروسته دوی هم دبګرام څخه

په شپږم مخ

اووینه وڅښیده ...

تاڅخه مخکې پنځوس کسان دي داته څه لیونی یې بی له دې چې چورت ووهی،زه ناپوهه یم راکړه ټکټ'افرین راکه دوه سوه روپۍ . پروان وویل دڅه شی ، دفیس.ماسره خو ... څه حیردی چې ډاکترصیب دارو راکړی هغه ته به ټولی ورکړم ، دډاکتر مزدور ورته وویل لیونی کیږه مه دادډاکتر خپل فیس دی دارویه دي مخامخ میډیکل ستورکي اخلی هغه دې خپل کاردی ، دپروان خوله دخفګانه وچه شوه،ښه زه مې دپلاره سره مشوره کوم پلاربیچاره یې په تندی لاس ایښی ؤ سترګی یې دزخم دګذك ددرد له وجی پټی کړی وی اودسترګو کونجونو ته یې اوښکی راغلی وي خدای خبر چې په زړه یې څه تیریدل پروان چې خپل جیب اودپلار سختی ته وکتل نوګردچاپیره یې وکتل هیڅ یې هم په نظر رانغلل پخپل لاس یې ښه اصلی جاپانی ساعت ولید څه دابه خرڅ کړم دشهید وروړهغه خبره یې رامخی ته شوه ورور که زه شهید شم دابه له تاسره زما دلاس نښه وی ورکه یې نکړې،خدایه زه څه وکړم یوه خوامی دمړ ورور دلاس نښه اوبلی خواته مې دپلارفریادونه ، پلارته ورنږدی شو،دادازه په منډه راځم داساعت خرڅوم ته له ځایه مه ښوره خدایزده چې پلار یې خبره واوریده اوکه نه خودی راهی شو ساعت یې له لاسه پرانست دیوه بل نه یې پوښتنه وکړه داساعتونه چیری خرڅیږی ؟ چالاروړته سیخه کړه په زړه کې یې وویل څه خیر که دادا خدای جوړکړی نوهم ښه دفاروق لالا دوینو کړه خولی خوهم په کورکې شته هغه به زما لپاره یوه نښه وی :

کیسبورانو چې دی ولید یوبل ته یې په سترګو کې اشاری وکړی هلکه تکړه شې؛ کابلی دی نه پوهیږې خپل بل کابلی ملګری یې دده مخی ته ودراوه دهغه سره هم په لاس کې یو ساعت ؤ نوروکیسه ښورودی راونیو راشه یاره دده سره زموږروغه وکړه دا دوه زره روپۍ ورکړه اوداساعت ترینه موږته واخله زموږ سره یې هسی ورانه ده ده پیسی ورورانـدی کړی هغه وویل نه دڅلوروزرونه یې کم نه ورکوم اخر زه هم مجبوریم داخوپاکستانی خلك دي ته خو زما خپل وطنداریې اوکه ته یې دځان لپاره اخلی نو په تامی پیرزو شی؛ نه وروره ماسره دومره پیسی چیرته دي خلکو ته یې وکتل نه یې درکوی واخلی پیسی مو ، ښه ته په دي خپل ساعت څه کوې؟زه یې هم خرڅوم په شپږسوه : نه ستاداساعت خوددووسوو هم نه دی پټ یې ورته وویل ته یې ددي خپل وطندارسره بدل کړه څه روپۍ هم ورپسی ورکړه،نه زه یې نه اخلم هغه ګران ساعت دی اوله ماسره خوټولی شپیته روپۍ دي؛ ماته یې کله راکوی ته خو ورته ووایه له تانه به یې بیا موږه واخلو هغه ورته پخپله وویل وطندار په تامی پیرزو کیږی زرروپۍ پسی راکه اوداساعت دي هم راکه اوساعت واخله څکه چې زما لاس ډیر تنګ دی'ده حرکت کاوه نه وروره زه یې نه شم اخستی پلاربه مې څنګه وی هغوی په زوره راټینګ کړواخله دادوه سوه روپۍ زموږ نه اوخپلی شپیته دي ورسره کړه ساعت ورکړه اوساعت واخله اوچې دي بلې خواته لاړشی موږ به یې له تانه واخلو پوره په دوه زره ، ته ولی خفه کیږی ده هم فکروکړڅه که رایی کړ زه؟ بیا هم څه روپۍ وطندار ماما ته ورکړم یوه بل کیسبوریې روغه وکړه دده نه یې ټولی پیسی هم واخستی ساعت په ساعت بدل شول په لږه شیبه کې خلك تیت اوپرك شول دی شیبه نیمه وګرځید چې هغه خلك راپیداشی دسرك په یوه غاړه اوبله غاړه یې څوچکری ووهلی خوخلك یې ونه لیدل وې څه راشه اوس یې دچاسره امانت کیده څکه هلته دادابه څنګه وی څومره په قهربه وی.داخدای وهلي څه شول ده ساعت یوه ساعت جوړونکی ته وښود استازه ماته یو ۵۰۰ روپۍ راکړه اوساعت له ځانه سره امانت کیده زه به سبا راشم اوددي ساعت خاوندان به هم راشی زه به دې بیا پیسی درکړم زما پلار ډیر ناروغه دی اوهغه مې هلته دډاکتر صیب په خواکې کینولی دی ساعت ساز چې ساعت وکوت، څه ګنګ پـه تـه اوس موږغولې دکابل نه راښکته شوی اوخبری دې بیایادی کړې؛داخوځوك په ۵۰ روپۍ هم نه اخلی ته خو لا ۵۰۰ روپۍ غواړې.پروان حیران دریان شو زه دروغ نه وایم دخپلی کیسی نه یې خبر کړماسره خوداسی لوبه وشوه، ای وروره ته ددې بازار غله نه پیژنی؛دوی خوپوره پوره ډله ګرځی څه خپله مخه کوه هغوی ته اوس نشی لیدی دساعت نه دې لاس ووینځه دپروان دسراوښنو نه یوه لمبه اوچته شوه سترګی یې له اوښکو ډکی شوی ساعت یې پخپل بغل جیب کې واچاوه . اې ظالمانو داموراسره څه وکړل اخردومره ظلم دخدای بی انصافه ته خو زما خپل وطنداروی دماښام اذان چې یی واورید ګرندی منډه یې رواخسته څوځوکرته خو ورته موټرو اورکشو بریکونه هم ونیول بدې ردې یې هم ورته وویلی خوده پری ځان کوڼ کـړدلیری نه یې دډاکترډشفاخانې په خوا کې ګنه ګونه ولیده خلك راټول شوی وُچاویل صبروکړی څوك به یې راپیدا شی چیری یې مه وړی اوچا ویل یوېې سی څوك لاوارثه مهاجردی ښخ یې کړی؛پروان هم وارخطا شو پلاریې ددیوال په خوا کې ونه لید په ګڼه ګونه ورننوت پخپل پلارورپریوت زړه یې ډیر راډك شه خودشرمه یې څه ونه ویل تاسی سره دي خدای پاك ښه وکړی دابی کسه اوبی څوك نه دی دامې خپل دادادی زه څه خبر وم که نه نومابه قدم هم نه وی اخستی موټروته یی وکتل خوچې په جیب یې لاس ولګید نوساعت وریادشو یو اورد اسویلی یې وکړ خدایه پاکه دقیامت په ورځ درنه هغه خلك مختورن غواړم کرمو چې زما په شان دبی وزله اوفقیر دوینو دڅښلو نه هم ډډه ونکړه دخلکو په منځ کې یو ځل بیا زمزمه شوه سرته یې څادرکیدی دبابا دسرنه وینه وڅښیده ثواب به موږ وشی اخرمسافر دی.

دبې کسی اسویلي ...

ښځه ناسته ده اوموچی ګری کوی ، ترڅنګ یې یو بکس ایښودل شوی اونورو دوغاړو ته یې دڅرمنو وړی ، وړی ټوټې اویو څو جوړه زاړه بوټونه اوچپلکی پرتی دي ، هغه ډیره په حیا او له غروره ډك انداز ناسته ده اویو بوټ برس کوی ترڅنګ یې دوه واړه زامن لوبی کوی ، کله په خاوروکې سره رغړی اوکله دسړك په سړ موټر شمیری :

هغه دی یوه لاری تیره شوه ... هغه دی بس راغی ...

مور یې هماغسی لګیا ده بوټ برس کوی ، سم یې دبوټ څخه برس جګ کړی نه وی چې بیا موټر وریاندي ګردونه امبار کړی په همدی دوران کې یې دبوټونو څښتن مخی ته ودرید اودي یې مخی ته بوټونه کیښودل ، زامنو یې رامنډه کړه اودمورترڅنګ ودریدل ، دسترګو لاندي یې دبوټودڅښتن خواته لیدل ، دبوټونو څښتن لابوټونه په پښنو کړی نه ؤچې بیا موټرو دوړی وریاندی امبارکړی ، دې بیا لاس وراوږد کړ بوټونه یې راواخستل برس یې کړل اوبیرته یې دهغه مخی ته کیښودل ، هغه په ډیر غروردجوب څخه دوه روپۍ راوایستلی اوددې خواته یې راوغورځولی مخکې تردې چې دالاس وراوږد کړی زامنو یې پری ورټوپ کړ، دې دبوټو دڅښتن خواته په کرکجن نظر وروکتل ، سترګو کې یې اوښکی ډنډشوی اودخولې یې دمایوسی اوبی کسی اسویلی ویوست هغه چې ددې په برخه ؤ .

په افغانستان کې دکی ، جی ، بی...

له روسانو سره دامان الله خان سیاسی ، اقتصادی ، فرهنگی اونورو ټولنیزو ساحو کې اړیکې ټینګول په بې ساری ډول سره زیات شول دکابل اومسکو ترمنځ تلگرافی رابطه په مستقیم ډول سره قایمه شوه دروس څخه دنسبتأغیر مدرنو الوتکو ، تیلفون اوتلگراف اونورو صنعتی اموالو رانیول اودهغوی سره دکارپوهانو په نوم روسی جاسوسانو راتګ ، روس ته دافغانی محصلینو لیږل اوپه نورو دولتی ارخونوکې دروسانو سره زیات نږدې کیدل ددې سبب شول چې روسان نورهم دې ته وهڅول شي چې دافغانستان اشغال اوددې لاری څخه گرمو اوبو ته رسیدل دخپلو استعماری پلانونو په لمړي ردیف کې ونیسي نوېې په افغانستان کې دجاسوسی اوطرفدارانو په پیداکولو زورواچاوه .

د «لینن» دقدرت په دوره کی روسی استعمارگرپوځونه په مغلستان (منگولیا) باندی ورمرش شول اوترهمدی دمه پوری دروسی کمونستی امپراطوری ترمستقیم تسلط لاندی اوروسی نظامی قواوې پکی موجودې دي . همدارنگه «لینن »دوحشیانه قدرت په وخت کی «بخارا» چی یو اسلامی اوخپلواك هیواد وُ دبلشویکانو پواسطه اشغال اودروسی کمونستی امپراطوری جزیې وگرځوله اودمنځنی آسیا په اشغال شویو اسلامی هیوادونو باندی یې روسی اوکمونستی دیکتاتوری (پرولتاریا دیکتاتوری) اوتسلط نورهم زیات شو، په همدی ترتیب کله چی امیر امان الله خان دکابل څخه کندهارته وتښتید (دهغه ځایه بیا کوټې ، کراچی اوبالاخره ایتالیا ته ولاړ) لینن خپل وحشی پوځونه دافغانستان په طرف رامرش کړل اوپه (۱۳۰۸ هـ ش) کال دافغانی مسلمانانو دبې ساری مقاومت اوقربانیو څخه

ورروسته روسی اشغالگر پوځونه مزارشریف ته راوورسیدل ، روسانو امان الله خان ته خبرورکړ چی موږ په ټول قوت سره دستاپه بیا پاچاکیدو کې په اصطلاح مرسته کوو اوبیرته دکابل په لوری حرکت وکړه خوځرنګه چی امان الله خان خپله اصلی خیره‌دافغانستان دهغه وخت حوادثو هنداره کې په ربښتینی ډول سره لیدلی وه چی نورنو افغانان دی نه منی (امیر امان الله خان یوشمیرداسی ناسنجول شوی کارونه سرته ورسول چی دیوه عاقل انسان لپاره دحیرانتیا وړګرځی په دی ډول دامان الله خان تیروتنو اونیمگړتیاوُ افغانان په قهر اوپاڅون ته اړکړل) نوځکه یې دبیرته راتلو اودتخت اوتاج نیولو جرئت ونکړاوډډه یې ورڅخه وکړه . په افغانستان کې دامان الله خان له تیښتی ورروسته بیا دمحمد ظاهرترپاچاکیدو پوری (کی ، جی ، بی) دهغې بې ثباته وضعی څخه په بده ګټه اخستلو سره چی موجوده وه په افغانستان کې خپل نفوذ اواجنتوری فعالیت ته دوام ورکړ.

(نوربیا)

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ...

> په هرښاراوکلي کې حتما داسې قوماندان شته چې روسې پوځیان به یې دنوم څخه ویریدل اوچې بیا کله دهغه پرخلاف دحملي پروګرام ولري ، دخپل سیوري څخه هم ویریږي

په تیښته موفق شول ددی ځای څخه هغوی راسا" دمجاهدینو سره یو ځای شول اودښځی په باب یې معلومات نشته چې څه شوه ؟.

سرگی دشرقدوك په مرکز کې کلمه وویله ، داسی یوه مسلمان چې داسلام په باب هیڅ هم ورته معلوم نه وه خو اسلامي مینی هغه داسلام غیږی ته راوسته قوماندان عبدالقدوس دهغه اسلامي نوم اسلام الدین کیښوده اوهغه ته یې داسلام بنستیز عقاید اواصول وروښودل اوکله چې مجاهدین وپوهیدل چې هغه اوس داسلامي جهاد له روح سره اشنا شوی هغه ته یې دروسانو پر ضد چریکی جنگونو کې دبرخی اخستلو اجازه ورکړه په لومړی جنگ کې یې هغه ته د« ار، پی ، جی » راکټ ورکړی وُ چې ده وریاندی یو روسی ټانك له مینځه یوړ دوهم ځل هم هغه ته دروسی ټانکونو پر ضد دلانچر چلولو دنده ورسپارل شوه هغه پر څلورو ټانکونو حمله وکړه یودده په مرمی ولگید اواوږوواخیست اونورو تښتیدل په دی شپه سرگی رحمت الله په ارامه توگه خوب وکړ .

سرگی په هغه وخت کې چې دروسانو سره وُ ډیری داسی منظری اوصحنی لیدلی چې روسی پوځیانو ته دمجاهدینو له ویری پیداشوی دخان اباد دمجاهدینو دقوماندان ډاکتر شمس په باب دهغو روسانو په مینځ کې چې خان اباد کې دندی سرته رسولی داخبره عامه وه چې هغه انسان ژوندی ښخوی اوخوری ، هغوی به دځینو پوځیانو نومونه هم اخیستل چې ډاکترشمس هغوی خام خوړلی اوژوندی یې ښخ کړی سرگی اودهغه ملگری به زیات دډاکتر شمس څخه ویریدل یوه روسی قوماندان په ډیره پټه توگه سرگی ته ویلی وُ چې ډاکتر شمس اصلاً دفرانسی دی اودانسانانو دخوړلوله امله دی سیمی کې بیخی دوحشت اووېرې علامه اونښه گرځیدلی دروسانو په ډول دسیمی خلك به هم دهغه څخه ویریدل ، خو دسرگی رحمت په زړه کې دډاکتر شمس دلیدو هیله وه اوچې کله دمجاهدینو سره یو ځای شو دډاکتر شمس دزړورتیا ډیری کیسی یې واوریدی اوداورته معلومه شوه چې روسانو ولی دهغه په باب ویل چې انسانان خوری ، روسانو چې پر چا دانوم کیښوده چې هغه انسانان خوری هغه به بیا دټولی سیمی دخلکو دزړونو

یواځنی هیله وه په هرښاراوکلی کې حتما داسی قوماندان شته چې روسی پوځیان به یې دنوم څخه ویریدل اوچې بیا کله دهغه پرخلاف دحملی پروگرام ولری دخپل سیوری څخه هم ویریږی اودهغه دنوم څخه په لړزه وی دټانك اوموټر پرته هغوی بازارته نشی تللی دهغوی دامنیت دساتلو سربیره دهغوی مورال دومره کمزوری وی چې دټانك څخه دوتلو جرئت نشی کولی ځکه دوی فکرکوی چې دمجاهدینو سره داسی وسلی شته چې که دټانك خواته نږدې

فیر کړاوداخلی داخبره هم سرگی ته روسی پوځیانو کړی چې دمجاهدینو سره داسی وسایل شته ، یوه مجاهد دهمدی په وسیله دزندان وسپنیزه دروازه له منځه وړی اوځان یې ازاد کړی ، ددی وسایلو څخه دخلاصون په خاطر ځینو روسی پوځیانو په ټانکو کې دقرانکریم ایتونه لیکلی ، په دی ډول دهغوی دعقیدی سره سم پر ټانك اثر نه کوی ، دمجاهدینو سره ددی وسایلو حقیقت سرگی ته هغه وخت معلوم شو چې دمجاهدینوسره یوځای شو اوداورته روښانه شوه چې دمجاهدینو سره ایمانی قوت اوالله(ج) مرسته ده اوبس.

سرگی رحمت دخپل هیواد څخه لیری دی اوپه اوسنیو حالاتو کې خپل هیواد ته دتگ زړه نه ښه کوی دهغه په زړه کې اولنی ارزو داده چې هغه دافغانستان ځمکه دروسانو څخه پاکه کړی اودمجاهدینو سره په جهاد کې برخه واخلی تردی وروسته دهغه هیله ده چې منځنی آسیا دکمونیزم له منگولو خلاصه کړی ، هغه وایی زه داسی هیواد ته تگ نه غواړم چې غلام وی په دی خاطر هغه باندی داخبره ښه نه لگیږی چې څوك دی ورته سرگی ووایی اوچې څوك ورڅخه وپوښتی هغه خپل نوم ورته اسلام الدین اخلی.

« نوربیا »

د استعمار یو نوی...

دشهیدانو په وینو دتجارت اوسودا بازی پټپټونی کوي .خوزموږ باوردی چې افغان ولس اوس لکه څنگه چې دروس امریکا دتوطئو په وړاندې هوښیار دی همداسې دداخلي خود غرضیو په رابطه هم بیداردی اوهیڅکله به هم دخپل عظمت نیغه شمله دذلت په خاورو کې غورځولو ته پرې نږدي .

کشمیر برفراز راه ...

منازل مسکونی گرفتار می نمایند همه رابه مناطق مرزی بین کشمیر اشغالی وکشمیر ازادبرده به قتل می رسانند .

دراپوراین کمیسیون که بتاریخ ۲۳/اپریل / ۱۹۹۰ به نشر رسیده گفته شده است که تنها درمدت پنج روز ارتش هند ۷۵۰ تن ازاهالی بی گناه کشمیر را گرفتار وبه ریگستان های « راجستان » منتقل نموده اند ، که بعداً انها رادرانجا شکنجه داده وبه شهادت می رسانند .

ملت مظلوم کشمیر با تقدیم قربانی های بی شمار درطول چهل سال مبارزه خویش دیگر به سرحد پیروزی نزدیك رسیده است .

مسلمان کشمیری باریختاندن خون خویش درتاریخ مبارزات ملت های مظلوم جهان اسلام صفحات رنگینی برای خود گشوده اند . دورنیست روزی که ثمره این همه قربانی های ملت کشمیر به شکل افتاب زیبای ازادی بر این ملت بتابد !

انطوریکه مجاهدین دلیر ما توانستند بامقاومت پیهم وخستگی ناپذیر ، ابر قدرت وحشی همچوروس راازخاك خود بیرون کنند ، وبت کمونیزم رادرجهان فروپاشند ، یقین داریم که ملت مسلمان کشمیر نیز روزی متجاوزین هندی را ازخاك خویش بیرون خواهند راند .

کشمیر امروز بر فراز راه انقلاب ایستاده است ، وزوداست که این انقلاب مژده ازازادی صلح وامنیت رابرای ملت مظلوم ومسلمان کشمیر به ار مغان بیاورد. انشاالله

برای حل مساله افغانستان نباید دیر نمود

(کریم خلیلي)

اگر نیروهای جهادی ومجاهدین دیر بجنبند ویا حساب شده حرکت نه کنند وهم اهنگی لازم رابوجود نیاورند ممکن است وضعیت فعلی جهان چنان شرایطی رابمیان اورد که مردم مابه انچه که میخواستند وبه انچه که بخاطر ان جهاد کردند دست نیابند وجهان بصورت دیگری مشکلات راسرراه مجاهدین مردم افغانستان قرارخواهد داد .

این مطلب را کریم « خلیلی » یکی ازرهبران تنظیم های برادران اهل تشیع افغان درپشاور طی مصاحبه با رادیو صدای امریکا ابراز نموده است.

وی همچنان درپاسخ به پرسشی گفته است اکنون شرایط خیلی حساس پیش امده زیرا هنگامیکه روسها درافغانستان بودند شمار زیاد کشورها ازمجاهدین حمایت داشتند اما اکنون جریان عکس انجوده حتی بعضی کشورهابه حمایت ازمجاهدین چندان علاقه نشان نمی دهند وحتی خواستار یك حکومت ائتلافی مجاهدین با حکومت کابل اند .

خلیلی درادامه افزوده است : باکاهش حمایت وپشتیبانی کشورهای خارجی ، نیروهای جهادی باید هماهنگی کامل را بین خود بمیان اورند ودور ازدخالت های خارج وماورای سرحد درصحنه جهادی وسیاسی تلاشهای مستقلانه رابوجود اورند .

موصوف دررابطه به وضع نظامی کنونی گفت : تمام مجاهدین درتمام بخشهای کشوردرفصل زمستان اماده گی میگیرند خودرا اکمال وتأمین می نمایند تابا فرارسیدن موسم مناسب فعالیت های جهادی راموفقانه به پیش برند .

وی افزود : اکنون که دوسال ازخروج عساکر روسی می گذرد روسها ازرژیم کابل همچنان حمایت می کنند حدود پنج ملیون مهاجر دورازوطن اند وازطرف دیگر تلاش های قدرتهای خارجی هم به سمتی درجریان است که میخواهند مساله افغانستان رابصورتی که خود شان میخواهند حل نمایند .

دافغانستان جهاد په بري سره...

صرف دحالاتو په ليدو دخپل فکرنه صحيح فيصله نشی کولای البته دښکاره اسبابو دليدو څخه داخبره کولای شو چې په کابل باندې دمجاهدينو دقبضې دنه کولو غټه وجه داده چې دروس دوتوڅخه وروسته دمجاهدينو سره په زړه پورې مرستې ونشوې مسلمانانو خپلې مرستې په دې خاطر بندې کړې چې روس ووتلو اوهغو کافرو مملکتونو کومو چې دخپلو اهدافو اومقصدونو لپاره دمجاهدينو مرستې کولې په دې وجه يې بندې کړې چې دهغوی دروس سره اتحاد وشواوهغوی په دې هم پوه شول چې مجاهدين خوله موږ نه مرستې اخلې خودهغوی په ذهن اوعقيده کې هيڅ اثر نشي غورځولی زما په نظر دکابل دنيولو غټ خنډ دادی چې دروس دوتلو نه وروسته ددې جهاد اومقاومت هغه ملاتړونه شو چې بايد شوی وای بلکه دروس دوتلو نه پس دمجاهدينو مقابله دروسانو له مزدورانو ملحدو کمونستانو سره پيل شويده چې ځانته افغانان وايي څو دعقيدې په لحاظ ترټولو غټ کافران دي اوروس په بشپړه توگه ددغو مرتدانو مرسته اوملاتړکوی دلومړی وخت څخه زياته وسله ورکوی ، په داسې وخت کې ضروری وه چې دگردی نړی مسلمانان دمجاهدينو مرسته وکړی اوپلې مبارك عمل کې ددوی مټ قوی کړی خوله بده مرغه مسلمانانو دوی ته پاملرنه ونه کړه اودجهاد ملاتړيې پريښود مجاهدين يې دروسی کمونستانو په مقابل کې يواځې پريښودل دکابل دفتحه کيدو دويم سبب دادی چې دمجاهدينو سره کوم ځانگړی متحد سياسی قيادت اوواحده اداره نشته نوله دې کبله دښمنانو ته دپروپاگندکولو موقع په لاس ورځی .

پوښتنه :- داخبره دډيرو پرمخ تللو منابعو څخه راڅرگنده شوی چې په افغانستان کې دننه دمجاهدينو دټولو قوماندانانو په منځ کې يو اتحاد شويدی ايا داخبره صحيح ده ددې اتحاد مقصد څه دی څکه چې ددې ترڅنگ داتحاد په بڼه يو عبوری حکومت هم موجود دی ؟

ځواب :- هو! داخبره رښتيا ده چې دافغانستان ټولو قوماندانانو پخپل منځ کې يو اتحاد کړيدی اوددغه اتحاد څومقصدونه په لاندې ډول دي .

۱ :- په کابل اودافغانستان په نورو ښارونو باندې په گډه اوشريکه حملې .

۲ :- په ټول افغانستان کې دمجاهدينو خپل منځی ارتباط،ترڅو دښمن ته دکوم سازش اومنافقت موقع په لاس ورنشی .

۳ :- په ټولو سنگرونو کې په گډه سره يو قوت جوړول

٤ :- پخپل منځ کې دټولو اختلافاتو اواشتباهاتو ختمول .

اوالحمد لله موږ ددغه اتحاد له برکته ترډيره حده په دغو مقاصدوبريالی شوی يو .

پوښتنه :- دعبوری اسلامی حکومت ځنو مشرانو ستاسو ددغه اتحاد مخالفت کاوه ايا دامخالفت اوس هم شته ؟ اوددغه مخالفت سبب څه دی؟

> مجاهدين داسلامي امت دساتني اوداسلام دسرلوړي لپاره جنگ کوي نو له دي خاطره دهغوي چمتوکول اودهغوي ملگرتيا کول په ټولو مسلمانانو واجب ده.

ځواب :- زموږ ددغه اتحاد داهدافو اومقاصدو دڅرگنديدو څخه مخکې رښتيا هم ځنومشرانو ددې اتحاد مخالفت کړی ؤاودهغوی دمخالفت وجه داوه چې هغوی گومان کاوه چې موږ ښايی دعبوری حکومت په مقابل کې کوم بل نوی اتحاد جوړوو خوکله چې زموږ مقاصدهغوی ته څرگندشول هغوی پوه شول چې دااتحاد يوازی اويوازی دافغانستان دکورنيو چارو اودنظامی ډگر سره اړيکی لری اوددغه اتحاد نورڅه خارجی اوسياسی مقصدونه نه شته ، نوهغوی بلکل مطمئن شول اواوس په هغوی کې يو هم دغه اتحاد ته دشك اوشبې په سترگه نه گوری .

پوښتنه :- دنړی مسلمانان دافغانستان په مقدس جهاد کې څه قسم برخه اخلی ايا دزکات مال په مجاهدينو لگولی شی ؟

ځواب :- دزکات اهمه اوافضله لاره مجاهدينولگول دي اوقران کريم هم پدې برخه کې فرمايی(فی سبيل الله) زکات ورکولی شی اودااصطلاح خاص دمجاهدينو لپاره ده ځکه چې په اسلامی امت باندې دمجاهدينو ډير زيات حق دی مجاهدين داسلامی امت لپاره ديوی قلا اوديوه ډال کار ورکوی مجاهدين داسلامی امت دساتنی اوداسلام دسرلوړی لپاره جنگ کوی نولدې خاطره دهغوی چمتو کول اودهغوی ملگرتيا کول په ټولو مسلمانانوواجب ده اودمجاهدينو سره مالی مرسته کوونکی هم دگردی اسلامی نړی دمسلمانانو په ساتنه کې شريك دي قران مجيد فرمايي :

ترجمه (جهاد وکړی په مالونو خپلوسره ... سورة التوبه -۸۸) او(تاسی ته ښودنه کوم په يوه تجارت ... سورة الصف -۱۰)

په دی مبارکو اياتونو کی يې په مال سره دجهاد کولو فضيلت ښودلی دی ، نواوس هم دامت هروگړي ته لازم دي چی دخپلی ذمه داری نه ځان خبر کړي اودمجاهدينو دزياتی مضبوتيا کوښښ وکړی ځکه چې ددوی مضبوتيا داسلامی امت مضبوتيا ده اوترڅو پوری چې په نړۍ کې فتنه موجوده وی اوکافران سرغړونه کوی نوددوی دورکولو پوری جهاد ضروری دی که هغه په مال سره وی اوکه په ځان والسلام .

دهند په پنجاب ايالت کې «۱۳» کسه ووژل شول

نوی ډيلی ، دکب ۱۱مه :

دهند په پنجاب ايالت کې دانسان وژنی په څو پيښو کې ۹ کسه دازادی غوښتونکو سکانو په گډون ۱۳ کسه وژل شوی دي. دهند حکومت يوه رسمی ترجمان ويلی دي چې سکانو دجلال اباد سيمی ته نژدی په يو کلی کې ٥ کسه وژلی دي .

همدارنگه ۳ ازادی غوښتونکی سکان دپنجاب ايالت په يوه منطقه کې وژل شوی .

پدې ډول په څومختلفو پيښو کې ټول ۱۳ کسان وژل شوی دي

دحضرت عمرفاروق (رض) ...

پوښتنه : دحضرت عمر فاروق(رض) پر غونډ باندی ددښمن دسترو يرغلونو ، اوپه هغی کې ددښمن دتلفاتو دشمير په هکله مهربانی وکړی اومعلومات راکړی ؟

ځواب : زموږ مجاهدين هميشه له دښمن سره په جهاد کې مصروف دي ،اوهميشه يې ددښمن دتعرضونو مخه نيولی ده ، ددښمن يولوی تعرض پدې غونډ باندی د۱۳٦٤ کال تعرض ؤ ، چې په هغه کې دغونډ يو شمير نامتو مشران شهيدان شول ، پخپله حاجي صاحب حقاني هم پدې جگړه کې ټپی شو ،اودا غونډ ديوی لنډی مودی لپاره دهغوی له خوا ونيول شو ، ولی دخدای (ج) په نصرت اودمجاهدينو په قربانی اوهمکاری الحمدلله دغه قوه له ماتی سره مخامخ شوه ، ددښمن زيات شمير الوتکی راوغورځول شوی ، برسيره پر تلفاتو يې ډير افراد ژوندی ونيول شول.

پوښتنه : ديوه جهادی مسؤل په صفت ، ستاسی په نظر دافغانستان دکشالی دحل لپاره کومه لارگټوره ده ؟

ځواب : زموږ جهاد داعلای کلمة الله اوپه افغانستان کې ديوه اسلامي حکومت دجوړښت لپاره پيل شوی او اوس هم زموږ هدف اومقصد همدادی .دافغانستان جهاد په همدې نامه پيل شوی ، اوداجهاد به ترهغې چې دغه هدف مونه وی ترلاسه شوی ادامه لری ، اودمجاهدينو په منځ کې اتحاد اواتفاق کولای شي زموږ دکاميابی ضامن وگرځی ، موږ بايد په خپل منځ کې دبی اتفاقی څخه لاس واخلو ، ترڅو زموږ دغه هدف ترلاسه شی !

پوښتنه : ستاسی په نظر دمجاهدينو په منځ کې داتحاد اوديوه واحد قيادت دجوړولو لپاره کومه لارگټوره ده ؟

ځواب : زما په نظر دافغانستان ټول خلك ، رهبران ، قوماندانان اومجاهدين بايد ددې لپاره چې په افغانستان کې اسلامي حکومت ټينگ شی په متحدانه ډول مبارزه وکړی اويوازی همدايو هدف دې په نظر کې ونيسی ، له خپلو شخصی اغراضو اواهدافو څخه دې تير شي ، اوپه افغانستان کې داسلامي حکومت دټينگښت لپاره دې کاروکړی .

پوښتنه : حاجي صاحب دخپل جهاد په دوران کې له بيلا بيلو خاطراتو سره مخامخ شوی ياست ، که مهربانی وکړی اويوه په زړه پوری خاطره ، زموږ لوستونکو ته بيان کړی !

ځواب : دجهاد په دوران کې سړی له بيلا بيلو واقعاتو سره مخامخ کيږی ، ددې خاطراتو څخه يوه هم هغه ده چې دجهاد په لومړی سرکې چې نوی مو جهاد پيل کړی ؤ ، ددښمن دقواو دکوماندو قطعه چې زيات عسکر يې درلودل .

دزرمت ولسوالی باندی يرغل وکړ ، ډير خلك مهاجر شول زه خپله شاهد وم چې په هغی ورځ پنځه شپږ ځله الوتکو پر کليو اوکورونو بمباری وکوله ، دزرمت په غرونو اوکلی کې په زرگونو ښځی ، سپين ږيری اوماشومان ؤ ، ددې وحشيانه بمباريو په نتيجه کې ٤٠ کسه بی گناه کليوال چې په هغی کې ښځی ، سپين ږيری اوماشومان هم شامل ؤ ، شهيدان شول ، ولې دخدای(ج)په فضل په دوهمه ورځ مجاهدينو ددښمن پر دې کاروان بريد وکړ ، اوپه سل هاوو تنه ددښمن افراد دمجاهدينو له خوا په اسارت ونيول شول . اودغې قوا دډيرو زياتو تلفاتو په قبولولو سره ماتې وخوړه .

پوښتنه : دمرکی په پای کې مهربانی وکړی اوزموږمجاهد ملت ته که څه پيغام لری ووايې ؟

ځواب : زه دخپل ځان اوددې مجاهدينو په نمايندگی دافغانستان دمجاهد ولس له فرد فرد څخه داهيله لرم چې شخصی اختلافات يوی خواته پريږدی له وخت څخه بايد استفاده وکړو ،اوترهغې پوری خپل جهاد ته ادامه ورکړو چې په افغانستان کې اسلامي حکومت نه وی قايم شوی .

په اوسني وخت کې چټك ابتکاراونوښت ته ...

موافقه پرې ترلاسه شوې ده ، خوکه هغه جزئيات يې چې افشا شوي،وکتل شي نوله ورايه ترې ښکاريږي چې په دغه پلان کې درهبرانو گټو ته اساسي توجه شوې ده،نه دملت اوجهاد مصالحو ته .

دغه مشران چې اوس داپروگرام وړاندې کوي دهغې قيادي شورا غړي وو چې دمؤقت حکومت دجوړيدو نه مخکې يې وجود درلود ، بيا همدغه مشران دمؤقت حکومت دمؤسسينوله ډلې څخه وو اوپه دغه حکومت کې يې صدارتونه اووزارتونه په لاس کې وو.

نوکه قيادي شورا دملت اوجهادي ستونځې حل کولی شواى،دمؤقت حکومت جوړولو ته څه ضرورت ؤ؟ اواوس چې مؤقت حکومت ناکام شو نومسووليت يې دهمدغو باصلاحيته اشخاصو په غاړه دی نه دبل چا اوکه صرف همدغه کسان بيا په يو بل تشکل کې څه دمؤقت حکومت اوڅه دقيادي شورا ترعنوان لاندې سره راټول شي ، څومره به په اوضـــاع کې بدلون راشي ؟!!

دداسې يو پروگرام جوړول دنړۍ دگړنديو تحولاتو سره هيڅ ډول هماهنگي نه لري .

داسې طرحې چې کوم ابتکار اونوښت له ځانه سره ونه لري ، دوخت دضايع کولو پرته بل هيڅ اثر نه لري ،اودوخت ضايع کول دمجاهدينو ستره ماته ده .

پرملت باندې پرله پسې ناکامې تجربې ترسره کول له يوې خوا دملت حوصله پاى ته رسوي اوله بلې خوا دمجاهدينو دسياسي بصيرت په نشتوالي دلالت کوي.

هيله ده چې اوس نوجهادي مشران ځان دخلکو دمقدراتو خاوندان ونه بولي په پوره اتحاد اودخلکو دغوښتنو په پام کې نيولو سره داسې قدم اوچت کړي چې دخلکو اعتماد لاس ته راوړي اودجهاد مصالحو ته پر خپلو گټو ترجيح ورکړي .

د استعمار یو نوی پټېتونی په نوې پرده کې

دیوه داسې مؤقت حکومت ترڅارنې لاندې سرته رسیږي چې هغه به په اصطلاح بیطرفه وي اوداخوپیا ښکاره خبره ده چې بیطرفه حکومت په اوسنیو اصطلاحاتو کې څه معنا لري !

دمجاهدینواومهاجرینو په سطحه ترکومه چې ددغه طرحې دافشا شوې برخې ترردعمل پورې اړه لري نو داسوال ضرور پیدا کیږي چې که ولس اومجاهدینو دادول طرحې منلې شواې نو ·دغو مره وینو تویولو اوقربانۍ ورکولو ته څه ضرورت ؤ؟ اوبلـه داچې دغرب ، غرب زدګانو ، بیطرفانواو... ترعنوان لاندې خو یو داسې په اصطلاح ترونده مبارزه روانه وه چې زموږ ولس دبشپړوحدت په لارکې یې ګڼ مشکلات رامنځ ته کیږې پدې ډول چې دولس یو برخه یې له انقلاب څخه ووړو ولیږي وسائله اوترداپروته په همدغه نامه موږ ډېر داسې معقول اوخونه له پامه غورځولي ؤ چې که په نظر کې نیول شوي وای دانقلاب له پاره یې ضرور لراوډېره ګټه رسولی شوای .

بالاخره بیا اوس ددغو ترونلو اوتېښو شعارونو اوواقعیتونو جنازه دا ډول ایستل کیږي چې دانقلاب دعظمت پرتندي دیوه تور داغ له لګولو پرته بله معنا نلري .

دادول طرحې چې دهرچا له خوا منل کیږي پرته له دې چې په عملي برخه کې یې څومره مشکلات دي ددامسې یوه ملت په سترګو کې خاورې اچول اوپرقربانیو یې څرګنده سودابازي ده چې له یو نیم ملیون څخه زیاتو سرونو قرباني یې پرداځې ددې له پاره ورکړې چې په هیواد کې واقعي اسلامي حکومت قایم شي اودکمونیزم دکفري اوالحادي ایډیالوژي له هرډول ناپاکیو څخه یې هیواد پاك شي .

اوس نوپه کومو سترګو اودکوم ضمیر په حکم داملت چې دروس کاله یې داسلام په نوم قرباني ورکړې دچا داقتدار له پاره داسې یوه طرحه ومنې چې هغه سراسر داسلامي انقلاب له ارمانو اواهدافو سره ښکاره تضاد لري .اخردغه ملت دادومره لوی قرباني ددې له پاره ورکړې چې بیا هم په هیواد کې داسې فضا حاکمه وګرځول شي چې دافغانستان دمسلمان ملت مقدس اسلامي جهاد نتیجه اوثمره دجهاد په کمین کې ناستو دښمنانو لتې ته ولوېږي اوموږ خپلې ټولې وعدې اوله ولس سره کړې ژمنې اوادعاګانې هیرې کړو !!اوپواځې ترې اقتدار ته درسیدلو هغه هم په ډېره لویډلې بڼه کاروا خیستل شي،که داسې دي نو داکاریقیناً ددغه مسلمان ملت له قربانیو سره له یو سختې ناځوانۍ اوجفا پرته بل څه نشي ګڼل کیدای .

موږ دخپل قهرمان اومجاهد ولس داغږ یو ځل بیا غبرګوو چې دافغانستان دیو نیم ملیون شهیدانو سپیڅلي ارمانونه هغه وخت رڅېدی شي چې په هیواد کې دمجاهدینو په لاس یو داسې اسلامي حکومت قایم شي چې هغه دروس ،امریکا اوټولو کفري اوخارجي طاقتونو څخه بې نیازه وي .

داښکاره خبره ده چې استعمارغواړي دیو ډول نویو مانورو اوتوطئو له لارې زموږ داسلامي انقلاب دبریمن کاروان دغوڅ اوشیپرېږي په مخه کې خنډونه رامنځته کړي، روس غواړي خپل ګوډاګی رژیم دهغه محتوم اوشرمیدلې شکست له منګولو څخه وژغوري چې دپسرلي په رارسیدواودمجاهدینو دیو مغیزو ګډو اوهم اهنګو بریدونو له اړخه ورته متوجه دی .روس ته داثابته ده چې کله هم مقاومت له یوې واحدې جنګي ستراتیژي اوادارې څخه برخمن شي نوبیا ددوی توطئې اودلاس کینولي مخ په زوال رژیم موجودیت ډېر ژر له منځه ځي اوس نوکه روس ددغه ویرې اوخطر څخه د کابل رژیم دژغورلو لپاره هرډول طرحې دهرچا پواسطه چې وړاندې کوي که په هغه کې یې که دپاکستان توافق ترلاسه کړی وي اوبیا دښاغلي انجینر حکمتیار ، استاد رباني ، اواستاد سیاف اوباکوم بل مشر سره دتفاهم اواړیکو ټینګولو دکوښش اوتوافق څخه وي ښکاره خبره ده چې روس له هغې څخه دخپلواستعماري اهدافو په لارکې له استفادې کولو پرته بله هیله نلري اوډهیڅ بیدارضمیر خاوند اوداسلام اووطن خواخوږی ترې باید بله اودخیر توقع ونلري .

ښکاره خبره ده چې له دادول طرحو سره مازې سرخوځول هم داستعماردهغه سازش دکامیابولو په لارکې،ډېر ګټور ثابتیږي چې دجنګ په ډ ګر کې دروس خوړلې ماتې پرې دډیپلوماسۍ اوسیاست دمیز ترڅنګ دجبیره کولو ملیوخانه هلې ځلې کوي. روس امریکا اوهربل بهرني قوت ته دغه ډول موقع ورکول یې له شکه له ولس اوانقلاب سره یوه ډېره لویه بې انصافي اوجفا ګڼل کیږي اودابیره په دهغه چاپه غاړه ده چې دخپل ذاتي اقتدار اواغراضو له پاره

په شپږم مخ

خبرتیا

گرانو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډېر درناوي سره خبردرکووچې :

دافغانستان دمجاهدینو راډیو دوه میاشتې کیږي چې په پرله پسې توګه یې په خپلو خپرونو پیل کړی دی .

تاسي کولي شی چې زموږ خپرونې فعلاً دورځې دوه ساعته په لاندې وخت اوځپو واورې .

لومړۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له (۷) بجو څخه تر(۸) بجو پورې

دوهمه خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازدیګر له (۵) بجو څخه تر(۶) بجو پورې

څپې :

په منځنۍ څپه (میډیم) (۱۲۰۰) کیلو هیلز اوپه لنډه څپه (شارټ)(۳.۲) میګاهیدز چې له (۹۰) متره باینډه سره برابره ده خپرېږي

دافغانستان دمجاهدینو دراډیو تلویزیون دلوی مدیریت لخوا پوست بکس (۱۰۳۳) یونیورسټي ټاون پېښور

دکویټ حکومت پاسپورټ اوپیسو سکه بدل کړل

کویټ دکب ۱۱مه :

دکویټ حکومت دعراقي پوځونو داوه میاشتنی اشغال څخه وروسته ددې هیواد « پاسپورټ » اوپیسو"سکه"بدل کړی دي اودنویو پاسپورټونو دجوړولو کار تکمیل شوی .

دکویټ دامیرجابرالاحمد الصباح یوه خصوصي استازي ، دعربو په متحده اماراتو کې جلا وطنه کویټیانو ته دخبرو په ترڅ کې دامطلب ښکاره کړی زیاته کړی یې ده چې عراقي پوځونو پرکویټ باندې له قبضې لګولو څخه وروسته دکویټ له بانکونو څخه بې شمیره پیسې اوکویټي دینارونه لوټ کړی دي ده وویل چې موږ ته داسې خبرونه هم رارسیدلي چې عراقیانو زموږ پیسې بدلې کړي ، اوحتی په ځنو ملکونو کې یې له جعل سازۍ څخه هم کاراخیستی .

نوموړی استازي زیاته کړی چې دعراق دیرغل پروخت بې شمیره کویټیان دپاسپورټ څخه پرته له هیواد څخه وتښتیدل ، دډېرو کویټیانو پاسپورټونه دعراقي پوځونولاس ته ورغلل اوله ډېرو کویټیانو څخه یې په زوره پاسپورتونه اخیستي ځکه نو داضروري ده چې باید دکویټ په سکه اوپاسپورټ کې بدلون راشي .

ده همدارنګه وویل چې په کویټ کې دګرځېدونکو موټرو نمبرونه به هم تبدیل کړای شي .

په منځنی ختیځ کی دسولی دراتلو لپاره باید دسولی کنفرانس جوړشي

« دچین دبهرنیو چارووزیر »

وارسا ، دحوت ۱۱مه :

دچین دبهرنیو چارو وزیر ویلی چې : په منځنی ختیځ کې دیوې پایداری سولې دټینګښت اوداسرائیلو اوعربو دجګړې دختمولو لپاره لازمه ده چې دسولې نړیوال کنفرانس راوغوښتل شي.

هغه ویلی چې پدې سیمه کې دسولې راوستلو لپاره داسرائیلو اوعربو دجګړې پای ته رسول اودفلسطین دکشالې حل کول ضروری دي .

دکابل په هوایی ډګر دمجاهدینو حمله

کابل میډیا :

دکابل څخه میډیا ته په رارسیدلوراپوټونو کې ویل شویدی چې اتلو مجاهدینو په همدې میاشت کې دکوه صافي څخه دسکر ۲۰ توغندیو په وسیله دکابل په هوایی ډګر باندې برید وکړی .

دهغې په ترڅ کې ددښمن یوه ترانسپورتي الوتکه ، یوه درادار دستګاه اویو داستوګنې تعمیر له منځه وړل شویدي .

په خبر کې زیاته شویده چې پدی برید کی درژیم ۱۳ تنه عسکر اوملیشه وژل شوی اویو شمیر نوری ټپیان شویدی اوهم درانده مالی تاوانونه وراوښتی دي .

امکان اشتعال جنگ ...

انعطاف سریع موصوف به جناح راست ونفوذ روزافزون افسران اردو وکی ، جی ، بی به اصلاحات سیاسی واقتصادی جاری روسیه خطر متوجه می سازد .

طبق یك خبر دیگر شمارجمهوری های که ریفراندم گرباچف رابخاطر حفظ وحدت روسیه رد می نمایند روبه فزونی میباشد درهمین سلسله جمهوری های گرجستان وارمنستان نیز اشتراك درهمه پرسی را رد نموده گفته اند که دران جمهوری ها همه پرسی مشخصی وجداګانه براه انداخته خواهد شد تامردم شان دران بخاطر استقلال ازروسیه رای دهند .

دهیئت تحریر ترنظر لاندې
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاؤن پېښور
تیلفون :... (٤١٧٤٦)

دبغلان ښارپر پوستو د مجاهدینو عملیات

بغلان میډیا :

دبغلان ولایت باشهامته مجاهدینو دبغلان ښاردشاوخواامنیتي پوستو باندې یو لړ بریالي عملیات ترسره شوي چې په نتیجه کې یې درژیم ۵ عسکرمړه او۸ کسه نور ټپیان شوي دي .

دغه رپوټ زیاتوي چې دمجاهدینو دبرید په ترڅ کې ددښمن یوشمیر سنګرونه ویجاړاویوه اندازه مهمات ولجه شوي دي .

دکابل رژیم ملیشه د لوګرنه کابل ته وغوښتل شوه

لوګرمیډیا:

دکابل رژیم د(رشید دوستم) او(کیان) ملیشه و دوه ډلې چې دکابل ښاردجنوبي امنیتي کمربند دلا مظبوتولو لپاره استول شوی وی ، وروسته له هغې چې محمد اغی ولسوالۍ اودهغې په شااوخوا سیمو کی دمجاهدینو سره دجګړې په دوران کی یې ماتې وخوړه کابل ته وغوښتل شوی .

دملیشه ؤ دغه ډلی تقریباً دری میاشتی پخوا دلته ځای پرځای شوی وی ، چې دزرغون ښاراوکابل دلویې لارې پرسربه یې دملکی خلکو مالونه لوټول ، اوبې ځایه به یې ځورول .

په خبر کی ویل شوی چې دغه دملیشي ډلی دحوت په ۵مه او۶مه نیټه کابل ته ستنې شوی اوپرځای یې دامام الدین لوګری ترقوماندې لاندې مسلح قواوی اوملیشې تعین شوی دی .

دکندهارهوایی ډګر دنجیب د بیرته ستنیدو په وخت تربرید لاندی ونیول شو...

کندهارمیډیا :

دکویټي په ښارکې دمیډیا نمایندګی دقندهارجهادی منابعو په حواله خبرورکړی چې ددی ولایتباتورومجاهدینو دکندهارهوایی ډګر هغه وخت تربرید لاندی ونیو ، چې نجیب غوښتل له کندهارڅخه کابل ته ستون شی خومتاسفانه دغه حمله هوایی ډګر ته دنجیب له رسیدو څخه لږمخکې پیل شوه ، پدی حمله کی ددښمن یو شمیر افراد وژل شوی چې دقیق شمیر یې ندی معلوم دمیډیا دیو بل خبر له مخې ددی ورځې په سهار بیا هم دغه هوایی ډګر دمجاهدینو تربرید لاندی ونیول شو چې ددښمن ۲۵ عسکریې وژلی ، ۱۵ یې ټپیان کړې اودمهماتو یوی ډیپو ته یې اوراچولی.

په ارغندي کې ١٤ تنه ملیشیان ځبل شوی

په هغه رپوټ کی چې دپادام قول له قرارګاه څخه دقوماندانانو دسرتاسری شورا مرکز ته مخابره شوی دی ویل کیږی چې زړورو مجاهدینو دحوت په شپږمه نیټه دارغندی په سیمه کی دملحد رژیم په سری پوستی باندی برید وکړ اولدی اصلـه یی ١٤ تنـه ملیشیان وژلی اویوه عراده ټانك یی ویجارکریدی .

پدی حمله کی یو تن مجاهد هم زخمی شویدی .

دسریلانکا ددفاع وزارت مرستیال ووژل شو

کولمبو ، رویتر اژانس دحوت ۱۱مه :

دسریلانکا حکومت ددفاع وزارت مرستیال « رجن وجی رتنی » کولمبو ښارته نژدی په یوه موټر کی دبم دچاودنې له امله ووژل شو.

دسریلانکا حکومت دصدارتـی دفتر یوه ویندوی ددی خبر په ورکولو سره زیاته کړی ده چی پدی موټر کی پرته له نوموړی څخه دپولیسو دڅلورو قوماندانانو اویوه بحری افسر په ګډون ۱۵ کسه نورهم وژل شوی .

ګرچه ددی چاودنی مسؤلیت تراوسه چا په غاړه ندی اخیستی خودسریلانکا پولیسو ګومان ښکاره کړی چی پدغه پیښه کی به تامیلي چریکان یاسندهالي افراطیان لاس لری .

دغه چاودنه ددفاع وزارت دمرستیال له کورڅخه یو کیلو متر لری پیښه شوی ده .